# اې ابو بکره، ته د هغو دوو په اړه څه ګومان کوې چې الله تعالی یې دریېیم وي»؟

د ابو بکر صدیق رضی الله عنه څخه روایت دی وایي: ما د مشرکانو پښې زموږ د سرونو د پاسه ولیدلې، حال دا چې موږ په غار کې وو، ما وویل: اې د الله رسوله، که له دوی څخه یو کس خپلو پښو ته لاندې وګوري، نو موږ به ووینې، هغه وفرمایل: «اې ابو بکره، ته د هغو دوو په اړه څه ګومان کوې چې الله تعالی یې دریېیم وي»؟

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

امیر المؤمنین ابو بکر صدیق رضی الله عنه د هجرت پر مهال وویل: ما د مشرکانو پښو ته وکتل چې زموږ د سرونو د پاسه د ثور د غار پر سر ولاړ وو او موږ پکې وو، ما وویل: اې د الله رسوله، که یو له دوی خپلو پښو ته لاندې وګوري، نو موږ به ووینې، هغه وفرمایل: اې ابو بکره، ته د هغو دوو په اړه څه ګومان کوې چې په نصرت، مرسته، ساتنه او لارښوونه کې یې الله تعالی دریېیم و؟!

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3447